د زده کړلو او ښودلو د حلقو جدول

# په ګناه کېدو باندې

# فوراً توبه کول



د 18 جون

# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: **5** منټه (2): دُعا یادول: **5** منټه

(3): [د خپلو اعمالو] جائزه: **5** منټه، **ټول وخت**: **15 منټه**۔

نن به د زده کولو او ښودلو پهٔ **حلقو** کښې پهٔ **72 نیک اعمال** کښې **د یو نیک عمل د ګناه کیدو نه پس فوراً د توبه کولو** پهٔ باره کښې ګټه ور معلومات درکولے شي او **د څهٔ خیز د سوزیدو پهٔ وخت لوستلے کیدونکې دُعا** به یادولے شي۔ پهٔ اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي۔ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!

## پهٔ ګناه کیدو باندې فوراً توبه کول

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: د **اللّٰه** پاک د رضا د پاره پهٔ خپل مینځ کښې محبت کوونکي چې کله میلاؤ شي او مصافحه اوکړي (یعنې لاسونه میلاؤ کړي) او د رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ ذات باندې دُرُود ولیږي نو د هغوئي د جدا کیدو نه مخکښې مخکښې د دواړو مخکښیني وروستني ګناهونه بخښلے کیږي۔ [(1)]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!    صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## نیک عمل نمبر 28

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ګناهونو نه د بچ کیدو او د اخرت د ښه والي د پاره د اِسلامي خوئیندو، د اِسلامي ورونړو او د طالبِ علمانو د پاره د سوالونو پهٔ شکل کښې د نیک اعمال مختلفې رسالې جوړې کړې دي۔ نن به مونږ د 72

[1]... مسند ابي يعلٰى، جلد:3، صفحه:34، حديث:2960۔

نیک اعمال رسالې نه د **نیک عمل نمبر: 28** په باره کښې معلومات حاصلوو-

**نیک عمل نمبر: 28** آیا نن تاسو **مَعَاذَالله!** د ګناه کیدو په شکل کښې فوراً توبه کړې؟

## توبه څۀ ته وئیلے شي

ګناه د **الله** پاک نافرماني ګڼل او په هغې باندې پښیمانه کیدل او شرمیدل او فوراً پریښودل، بیا د پاره چرې هم د ګناه نۀ کولو پخه اِراده کول او د هغې تلافي کول (یعنې چې کوم کمے شوے دے هغه زر پوره کول)، **توبه** ده- [1]

**وضاحت:** د توبې درې شرطونه دي- **(1):** په ګناه باندې پښیمانتیا او شرمیدل **(2):** هُغه ګناه پریښودل **(3):** بیا د پاره د هُغې ګناه د نۀ کولو پخه اِراده کول- که چرې یو شرط هم وه نۀ موندلے شو نو توبه به صحیح نۀ وي- [2]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** ګناهونه په درې قِسمه دي: **(1):** د **الله** پاک او د بنده ترمینځه کیدونکي داسې ګناهونه د کومو چې تلافي کول چې نشته، لکه شراب څښل، سندرې سازونه غږول، اوریدل وغیره د داسې ګناهونو نه د ذِکر کړے شوو درېو شرطونو سره توبه کول لازمي ده **(2):** د حقوقُ الله په باره کښې داسې ګناهونه د کومو تلافي چې لازمي وي، د داسې ګناهونو نه د توبه کولو سره سره تلافي کول هم ضروري ده ګنې توبه به صحیح نۀ وي- مثلاً ◈ که نمونځونه یا روژې نۀ وي نیولے شوې نو قضا راوړل ◈ د تیرو کلونو زکوٰة کوم چې مخکښې ادا کړے شوے نۀ وي، حساب لګول او

1 ...فتاوی رضویه، جلد: 21، صفحه: 121، بتغیر قلیل-

2 ...فتاوی رضویه، جلد: 21، صفحه: 122، بتغیر قلیل، الحدیقة الندیه، جلد: 1، صفحه: 306-

ورکول (3): د حقوق العباد [یعني د خلقو د حقونو] په باره کښې ګناهونه- د داسې ګناهونو نه په توبه کولو کښې دا خبره هم لازمي ده چې کوم حقونه ضائع کړے شوي وي هغه دې ادا کړے شي، مثلاً د چا حق يې چې خوړلے وي، د هغۀ حق دې ادا کړي يا دې پرې معاف کړي- لکه د چا نه يې مال په زوره اخستے وي يا په سود، غلا رشوت وغيره کښې يې اخستے وي نو د چا چې هُغه مال دے هغه ورته واپس کړي ◈ په چا باندې يې ظلم اوکړو، ځپيړه يې ورکړې نو په هغۀ دې ځان معاف کړي يا بدله دې ورکړي وغيره- (1)

## آيت مبارک

**الله** پاک فرمائيلي دي:

| | |
|---|---|
| فَاِنَّهٗ كَانَ لِلْاَوَّابِیْنَ غَفُوْرًا ﴿۲۵﴾ (پاره:15 سورۀ بنی اِسرائيل:25) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو بے شکه هغه توبه کوونکو لره بخښونکے دے- |

تابعي بزرګ حضرت سعيد بن مُسيّب رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: په دې آيت کښې د اَوَّاب نه مُراد هُغه ګس دے د کوم نه چې ګناه وشي، بيا توبه کړي، بيا ګناه وشي، بيا توبه کړي- (2)

## د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

كُلُّ بَنِي آدَمَ خَطَّاءٌ، وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ

[1]... فتاوی رضویه، جلد: 21، صفحه: 122، ملخصًا، منهاج العابدين، العقبة الثانيه ...الخ، صفحه: 9089-

[2]... تفسير طبری، پاره: 15، سورۀ بنی اسرائیل، زیر آیت: 25، جلد: 8، صفحه: 65-

**ترجمه:** د هر اِنسان نه خطا کيږي او بهترين خطا کار هغه دے کوم چې توبه کوي۔ [(1)]

## د توبې ويستلو متعلق احکام

**(1):** څنګه چې ګناه وشي، د هغه ګناه نه فوراً توبه کول واجِب دي۔ [(2)] **(2):** څنګه چې ګناه وشي، توبه هم هغه شان کول ضروري ده۔ د پټې ګناه به پۀ پټه او د ښکاره ګناه توبه به هم ښکاره کول وي۔ که د خلقو پۀ مخکښې يــې ګناه اوکړه نو توبه به هم د خلقو پۀ مخکښې کول وي۔ [(3)] **(3):** د توبه کولو پۀ وخت چې بيا د پاره د ګناه نۀ کولو پخه اِراده وي، که چرې د توبې کولو پۀ وخت پۀ زړۀ کښې بيا د ګناه کولو اِراده وي نو دا د سره توبه نۀ شوه بلکې مَعَاذَالله! پۀ اِسلام پورې خندا ده۔ [(4)] **(4):** د ګناه نه پۀ توبه کوونکي د هغه ګناه عيب لګول (مثلاً چا چې د سود نه توبه کړې وي هغه ته **سود خور** وئيل) حرام دي۔ [(5)]

## د توبه کولو فائدې

◈ توبه کوونکے **الله** پاک محبوب ساتي ◈ توبه کول عبادت دے ◈ د توبه کولو سره کاميابي نصيب کيږي◈ توبه د **الله** پاک د رحمت موندلو ذريعه ده ◈ توبه ګناهونه ختموي او د زړۀ نه زنګ لرې کوي۔ **د اخري نبي** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **دوه فرامين مبارک: (1):**

---

[1] … ابن ماجه، کتاب الزہد، باب ذکر التوبة، صفحه:689، حديث: 4251۔

[2] … شرح مسلم للنووی، کتاب التوبة، باب فی الحض علی التوبة ...الخ، الجزء السابع عشر، جلد:6 صفحه:67۔

[3] … فتاوی رضويه، جلد:23، صفحه:324، بتغير قليل۔

[4] … مرآۃ المناجيح، جلد:3، صفحه:364۔

[5] … فتاوی رضويه، جلد:23، صفحه:329، بتغير قليل۔

توبه کوونکے داسې دے لکه هغه چې هډو ګناه کړې هم نۀ ده- [1] (2): اِنسان چې کله ګناه کوي نو د هغۀ په زړۀ باندې تور داغ ولګي، بيا که چرې هغه توبه کړي نو هغه داغ ختم کړے شي- [2] ◈ د رښتونې توبې سره عمر زياتيږي او په رزق کښې اضافه کيږي ◈ د اِستِغفار سره تنګي او غمونه لرې کيږي **په حديثِ پاک کښې دي**: څوک چې هميشه اِستغفار کوي، **الله** پاک د هغۀ د پاره د هرې تنګۍ نه د وتو لاره جوړوي، د هر فِکر او غم نه ورته نجات عطا کوي او د داسې ځائے نه ورله رزق ورکوي د چرته نه چې د هغۀ ګمان هم نۀ وي- [3]

## توبې نۀ کول او په ګناهونو باندې د کلک ودريدو نقصانونه

◈ په ګناه باندې کلک ودريدل شيطاني طريقه ده ◈ په ګناه باندې کلک ودريدل ظلم دے ◈ په ګناه باندې کلک ودريدل دوزخ ته بوتلونکے کار دے ◈ په ګناه باندې د کلک ودريدو سره د نيکو کولو توفيق نۀ نصيب کيږي او نۀ د عبادت خوند نصيب کيږي ◈ په ګناهونو باندې کلک ودريدل يعني د توبې توفيق نۀ ميلاؤيدل هم د عذاب يو شکل دے ◈ په ګناه باندې کلک ودريدل د **الله** پاک د ناراضګۍ يوه وجه ده- **په تفسير صاوي کښې دي**: څوک چې نۀ توبه کوي، په کُفر او ګناهونو باندې قائِم اوسي، هغه به په ويره او مرض کښې اخته اوسي، هغه به د **الله** پاک د ناراضګۍ سره هم مخ کيږي اګر که د دُنيا خوندونه د هغۀ د پاره پراخه شي، په داسې عيش او د دُنيا په خوندونو کښې هيڅ خير

---

[1] …ابن ماجه، كتاب الزهد، باب ذكر التوبة، صفحه:689، حديث: 4250۔

[2] …ابن ماجه، كتاب الزهد، باب ذكر الذنوب، صفحه:688، حديث:4244۔

[3] …ابو داود، كتاب الصلاة/الوتر، باب فى الاستغفار، صفحه:247، حديث:1518۔

نشته، د کوم نه پس چې دوزخ وي- (1)

## د ګناهونو نه د توبه کولو د ذِهن جوړولو د پاره

◈ د توبې فضیلتونه او فائدې پهٔ ذِهن کښې ساتئ ◈ د ګناه کولو وعیدونه لولئ ◈ مرګ ډیر ډیر یادوئ ◈ د قیامت پهٔ ورځ کیدونکے حساب یادوئ! غور کوئ! که چرې نن مو د ګناهونو نه توبه ونهٔ کړه نو د قیامت پهٔ وحشت ناکه ورځ چې به کله نمر وور وروي، زمکه به د اوسپنې وي، د هر چا سره به د خپل ځان غم وي، پهٔ داسې حالت کښې به د **اللّٰه** پاک پهٔ دربار کښې د ګناهونو حساب څنګه ورکړے شو ◈ مایوسي پریږدئ او د **اللّٰه** پاک د رحمت نه امید ساتئ! بعضې وخت شیطان د **اللّٰه** پاک د رحمت نه مایوسه کول کوي، وسوسې ور اچوي چې دومره ګناهونه دې اوکړل یا دومره ځل دې توبه وکړه، اوس به دې توبه نهٔ قبلیږي، د **اللّٰه** پاک رحمت ډیر پراخه دے، هغه توبه قبلوونکے دے- **پهٔ حدیثِ پاک کښې دي:** ستاسو ګناهونه که د اسمان پورې ورسي، بیا تاسو توبه کړئ، **اللّٰه** پاک به ستاسو توبه قبوله کړي- (2) ◈ پهٔ زړهٔ کښې د **اللّٰه** پاک ویره زیاته کړئ! یاد ساتئ چې د **اللّٰه** پاک د پراخه رحمت پهٔ لیدو بے باکه او زړور کیدل نهٔ دي پکار او نهٔ د **اللّٰه** پاک د عذاب د سخت والي پهٔ لیدو د هغهٔ د رحمت نه مایوسه کیدل پکار دي! بلکې د اُمید او ویرې ترمینځه اوسیدل پکار دي-

[1] ...تفسیر صاوی، پارہ:11، سورۂ ھود، زیر آیت:3، الجزء الثالث، جلد:2، صفحه:126-

[2] ...ابن ماجه، كتاب الزهد، باب ذكر التوبة، صفحه:689، حديث: 4248-

# د ښودلو او زده کولو په حلقو کښې يادولو والا دُعا

## په څۀ څيز د سوزيدلو دُعا

اَذۡهِبِ الۡبَأۡسَ رَبَّ النَّاسِ ؕ اِشۡفِ اَنۡتَ الشَّافِيۡ لَاشَافِيَ اِلَّا اَنۡتَ

**ترجمه:** اے د ټولو خلقو **ربه!** تکليف لرې کړې، شِفا راکړې هم تۀ شِفا ورکوونکے يې ستا نه بغير څوک شِفا ورکوونکے نشته۔ (1)

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

### د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نمونځ نه مخکښې مو د نمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوۡرَةُ الۡمُلۡك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نمونځ نه پس مو آيَةُ الکرسی، **تسبيحِ فاطمه**، سُوۡرَةُ الۡاِخۡلَاص لوستلے؟ (6): آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلي يا اوريدلي؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آيا د فضول نظر نه پۀ بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکتبة المدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟

---

[1] ...سنن الکبری للنسائی، کتاب عمل الیوم و للیلة جلد:9، صفحه:81، حديث:1144، مدنی پنج سوره، صفحه:219۔

(13): آیا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آیا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آیا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آیا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آیا په تاسو او جي وئیلو سره مو خبرې کړي؟ (18): آیا په مکـتبة الـمدینه بالغان کښې مو لوستلي، یا مو ښودلي؟ (19): آیا د ماسخوتن د جَمعې نه پس په دوو ګینټو کښې کور ته رسیدلي یئ؟ (20) : آیا دوه ګینټې مو په دیني کارونو باندې لګولي؟ (21): آیا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ (22): آیا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آیا په کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آیا د جومات درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (25): آیا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آیا د زلفو د پریښودو په سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آیا یو موټے ګیره مو پریښودې؟ (28) : آیا د ګناه کولو په شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آیا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آیا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آیا څۀ نا څۀ مو په سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آیا د ماسپښین سنتِ قبلیه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آیا تهجد یا صلوٰۃُ اللیل مو ادا کړي؟ (34): آیا د اَوَّابِیْن یا اِشْرَاق او څاښت نـمونځ مو کړے؟ (35):آیا د مازدیګر یا د ماسخوتن سُنتِ قبلیه مو ادا کړي؟ (36): آیا په 12 دیني کارونو کښې مو د یو دیني کار ترغیب ورکړے؟ (37) : آیا د نورو نه غوښتلے شوي څیزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38): آیا د دروغو، غیبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آیا د څۀ وخت د پاره مو مَدَني چینل کتلے؟ (40): آیا ذاتي دوستي خو مو نۀ ده کړې؟ (41): آیا په

وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آيا د عاجزئ داسې الفاظ خو مو نۀ دي وئيلي کوم چې زړۀ نۀ دي منلي؟ (43): آيا د صفايئ او سليقې خيال مو ساتلے؟ (44): آيا د مسلمانانو د عيبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آيا د سحر د نمونځ نه پس مو د تفسير اوريدو /بيانولو پۀ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آيا د څۀ نا څۀ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئيلې؟ (47): آيا چوک درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (48): آيا مور پلار او پير او مرشد ته مو ايصالِ ثواب کړے؟ (49): آيا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آيا د ټريفک د قوانينو پابندي مو کړې؟ (51): آيا د تنظيمي طريقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52):آيا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آيا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آيا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آيا عمامه شريف مو پۀ سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

◈ پۀ ليکلو خبرې کول 12 کرته ◈ پۀ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ◈ پۀ سترګو کښې د سترګو اچولو بغير خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو ځوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَره مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا پۀ هفته واره

اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ **(60)**: آیا یومِ تعطیل اِعْتِکَاف مو کړے؟ **(61)**: آیا د مریض یا غم زپلي تپوس یا غم خوري او د چا په وفات کیدو مو تعزیت [لاس نیوه] کړې؟ **(62)**: آیا په هفته کښې مو په یوه ورځ کښې روژه نیولې؟ **(63)**: آیا هفته واره رساله مو لوستلې یا اوریدلې؟ **(64)**: آیا علاقائي دوره مو کړې؟ **(65)**: آیا مخکښې راتلونکي او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د دیني ماحول سره تړون پیدا کړو؟